

# جان گل

د افغانستان پولو ته څېرمه جګړه او د نشه يي توکو قاچاق د هغو ورځو په ترڅ کې چې امريکا له طالبانو سره د سولې هوکړه لاسليکوي، امريکايي ځواکونه د طالبانو پټنځايونه بمباروي.



د ۱۹۸۰ لسیزې پرمهال زموږ کلی د وخت کمونیستي رژیم او مجاهدینو ترمنځ د یوې ویجاړوونکې او سختې جګړې ډګر و.




هغه مهال مې له
۲۰ کلونو عمر زیات نه و. زه
پاتې وم او یوه ځوانه کورنۍ
چې باید ساتنه مې ترې کړې
وای او خوراک څښاک مې
ورته برابر کړی وای.
ناامنۍ او بې برخلیکۍ زموږ
د خلکو، کورنیو او ټولنې د
ژوند پر ټولو اړخونو سیوری
غوړولی و.
او ځینې بیا له مجاهدینو سره یو
ځای شول.
مګر زه بیا د نورو په څیر د وخت حکومت له
امنیتي ځواکونو سره یو ځای شوم.
زما د ورور په څیر ځینو پاکستان ته
تیښته کړه.


د افغانستان ډموکراټیک ګوند
په هغه وخت کې اردو ماته مناسبه اندازه معاش راکوه او د ژوند تیرولو لپاره یې کوپون، خوراکی مواد او نور لومړني توکي راکول.
په یادو توکو سره مې کولای شول، څو له خپلې کورنۍ سره ژوند پرې تیر کړم.
کوپون
زه تر ډېره د هیواد په شمال کې په خدمت بوخت وم.
ملګریه! اوس دې کورنۍ چیرې ده؟
هغوی په ننګرهار کې اوسیږي.
د یوازېتوب او زړه تنګۍ احساس مې کاوه او زیاتره وخت به د کورنۍ خاطرې ذهن ته راتلې او د ماشومتوب دورې په تړاو به مې فکر کاوه.
د ماشومتوب په لومړیو کې به مې له پلار سره په کرونده کې د غنمو او کوکنارو په کرلو کې مرسته کوله.


۱۹۹۲
اوس چې جلال آباد ښار د مجاهدینو لاس ته ورغلی، څه به پیښ شي؟
څه پوهیږم. هر څه ناڅرګند دي.
ډېر ژر مې اردو پرېښوده. د اردو معاش هم ډېر زیات راکم شوی و او نور یې کوپون هم نه ورکول.
بیاځل ننګرهار ته لاړم او له کورنۍ سره یوځای شوم.
مګر هلته بیکاره پاتې شوم، په یاد وخت کې کاري فرصتونه ډېر کم وو.
افغانستان


په هغه ښار کې که چیرې ځوک دربانديې پوه شوي وای، چې تاسو له کمونیستي رژیم سره کار کړی دی او یا هم ورسره په اړیکه کې یاست، له خطر او ګواښ سره مخ کیدئ.


له سیاسي مسایلو او جریانونو هم د تیښتې لاره نه وه.
هغه کسان چې له کمونیستانو پلوي کوي، خپل خدای او وطن هیروي.




بالاخره یوه ورځ د یو ملګري د تره زوی له لوري، چې په اردو کې مې ورسره پیژندلي و او یو ډګروال و؛ یو کاري فرصت راته برابر شو.

ښپې او ورځې په نا امیدی تیریدلې.

زه تل د یو کار په لټه کې وم، څو له خپل ځان او کورنۍ سره له اقتصادي اړخه مرسته وکړم.






مگر پرېکړه مې وکړه، چې له دې کار خپله میرمن خبره نه کړم.
که څه هم د قاچاق له خطرونو نه په بشپړه توګه خبر وم، خو بیا مې هم وغوښتل له لاسته راغلي کاري فرصت ګټه پورته کړم.
زه د ډېر وخت لپاره هلته نه پاتې کېږم. یوازې د څو میاشتو لپاره د هیواد شمال ته ځم. خبر شوی یم، چې په دې ورځو کې هلته د ورځنۍ اجورې اخیستلو کارکوونکو لپاره کاري فرصتونه زیات دي.
په حقیقت کې هغه یوازېنۍ کاري فرصت و، چې راته برابر شوی و.
مسکو
ننگرهار مو پرېښود او د پاسپورت او وېزې چمتو کېدلو تر وخت پورې باید د یو بل کس په کور کې پاتې شوي وای.
وګوره! دا بکس په ډېر ځانګړې مهارت سره چمتو شوی دی، موږ کولای شو په هغه کې هروئین پټ کړو.
په دې بکس کې ۲،۵ کیلو هروئین ځای پر ځای شوي دي او باید د خپل ځان په څیر ترې ساتنه وکړې.
بالاخره موږ پولې ته ورسیدو.
افغانستان
یوه اندازه ممیز او بادام مې هم واخیستل او په هماغه بکس کې مې واچول.


پولې
دا بادام دي، چې له ځان سره يې وړئ؟
هو! مهرباني ويې خورئ!
نه شم کولای دا څرگنده کړم، چې هغه مهال له روحي نظره څومره تر فشار لاندې وم.
ژر مې هغه ځای پرېښود او لږ هاخوا د ډگروال په تمه پاتې شوم.
موږ له ډېرو زياتو تلاشي ځايونو تير شوو. طالع مو لرلې، هغو تلاشي ځايونو هيڅ يو هم د سکن ماشينونه نه درلود.
مسکو
خپل پاسپورتونه مو راته تسليم کړئ.
پوليس له تاسو سره په بازار او مارکيټونو کې کار نه لري.
خو تاسو بايد په دې هوټل کې پاتې شئ.






په هماغه هوټل کې پاتې شوو، او هڅه مو دا وه، چې د دې ستونزې لپاره یوه حل لاره پیداکړو.

له موږ سره د توکو او کالیو په څیر چلند شوی و، چې لیږدول شوي وو، گټه خو ناوړه گټه ترې اخیستل شوې وه.

ناڅاپي له یو افغان ځوان سره مخ شوو.




بالاخره موږ مسکو ته ورسیدو.
حتی له هوټل څخه وتل موږ ته ستونزمن وو.
باید د هوټل مسوولینو ته مو دروغ ویلي وای، چې ولې هوټل پرېږدو.
تاسو اجازه نه لرئ، چې له هوټل ووځئ. چیرته غواړئ لاړ شئ؟
غواړو فقط د شپې ساعتیري ته لاړ شو.
ښه! سمه ده، خو پام مو وي، چې ډېر وخت هلته پاتې نه شئ!
خپل وطن او کور ته د راګرځیدو په تمه وم.
په مسکو کې ټول شیان، پردي، ناآشنا او دردوونکي وو.
زما خپله کورنۍ زیاته یاده شوې وه.
موږ چې له ځان سره کوم هروئین وړي وو، پلورونکي ته مو تسلیم کړل.
هغه ښه سړی معلومیده.
موږ ته یې ډوډۍ راکړه او ډېر ښه چلند یې راسره وکړ.
زموږ سفر پای ته رسیدلای و.


خپل پاسپورتونه مو له ځان سره نه لرل او
د راګرځېدو پرمهال مجبور و په هرځای
کې رشوت ورکړو. هغه سفر زموږ لپاره له
کړاو او لګښت ډک سفر و.
په هغو پیسو چې له پلورونکي مو
اخیستې و او نور حتی د هروئینو د لیږد
وېره هم نه وه، بیاځلې افغانستان ته
خپلو کورونو ته راوګرځېدو.
مسکو
هغه مهال، چې طالبان د واک
پر ګدۍ ناست و، موږ ډېر
آزادانه نشه یي توکي کرل او
آزادانه مو معامله کول.
په هغو پیسو چې له سفر
مې ترلاسه کړې وې، په
بازار کې مې یو کوچنی
دوکان پرانیست.
افغانستان
هغوی له بزګرانو او پلورونکو مالیات راټولول.
طالبانو سخت اسلامي قوانین تطبیق کول.
د ډېرو لپاره په یاده سیمه کې هغه وخت د اقتصادي
غوړېدا وخت و. امنیت هم ښه و او موږ کولای شول له
کوم خطر او ګواښ پرته سفر وکړو.






زه يو بل ډېر ښه فرصت لرم. يو بل سفر
مسکو ته او هغه ځای ته د هروئينو قاچاق!
هماغه د مخکني سفر په څېر. دا ځل حتی
په ډېرو ښو امتيازاتو سره.

نه! مننه ملګريه. د خدای شکر
دی، کار او ژوند مې ښه دی. په
دې وروستيو کې مې يوه ټوټه ځمکه
اخيستې ده او د کور جوړولو کار مې
هم پرې پيل کړی دی.

له خپل ځان سره مې ژمنه کړې ده، چې
نور هيڅ وخت په دې کار کې ښکيل نه
شم. دا يو ډېر خطرناک کار دی!





اوس مې نور د نشه يي توکو له
سوداګرۍ لاس اخيستی دی.

اوس مې عمر هم لوړ شوی دی او د
دغو کارونو لپاره هيڅ توان نه لرم.

زه له خپل ژوند راضي او خوښ يم.

د خدای شکر، زامن مې ټول په کار بوخت دي
او خپل کاروبار لري.

په بدمرغۍ سره هيواد مې د جګړې په اور کې
سوځي. د سولې او آرامۍ څرک نه ليدل کيږي!

داسې ليدل کيږي، چې تاريخ بيا ځل تکراريږي.



که څه هم د پخوا په پرتلې ژوند دلته ډېر غوره
او ښه دی، مګر موږ ټول دلته په بې برخليکۍ
او سردردۍ کې ژوند کوو.

په بدمرغۍ سره نن ورځ مو ژوند له جګړې او
شخړې سره غوټه شوی دی.



# نشه يي توکي او بې نظمۍ(یا نظم)

نشه يي توکي او بې نظمۍ(یا نظم): له جګړې په وروسته ډګر کې د سولې پرمهال د پایښت لرونکي اقتصاد رامنځ ته کول یوه څلور کلنه څېړنیزه پروژه ده، چې په افغانستان، کولمبیا او میانمار هېوادونو کې د نشه يي توکو له ناقانونه اقتصاد د سولې اقتصاد د تګ څرنګوالي په برخه کې اړین شواهد وړاندې کوي. دغه څېړنه د نشه يي توکو، شخړې، روغتیا او جګړې په برخه کې د بې سیاله پېژندل شویو نړیوالو سازمانونو د نړیوال کنسرسیوم د کار پایله ده. د دې پروژې مشري د لندن (SOAS) پوهنتون سره ده او د پروژې همکاران: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (Alcis)، (AREU)، د کاچین لېنډ څېړنیز مرکز(KRC)، د لندن حفظ الصحې او ګرمسیري درملو پوهنتون (LSHTM)، د پایداره ودې او څېړنو مؤسسه(OSDR)، د اکسفورډ پوهنتون د نړیوالو او سیمه ییزو مطالعاتو پوهنځی (OSGA)، مثبت منفی، د شان هیرالډ خبري اژانس( SHAN)، لاس اندیس پوهنتون، او د کولمبیا ملي پوهنتونونه دي.

دا څېړنه د برېتانیا د څېړنې او نوښتونو ادارې اړوند د نړیوالو ننګونو د څېړنې بودجې(GCRF) له خوا تمویل شوې ده. په دې څېړنه کې وړاندې شوي نظریات د لیکوالانو دي او د نړیوالو ننګونو د څېړنې بودجې په سازمان، برېتانیا حکومت یا هم همکارو سازمانونو پورې تړاو نه لري.

**جوړونکي:**

POSITIVE NEGATIVES

drugs & (dis)order

**ددغو ادارو په مرسته:**

OSDR

Afghanistan Research and Evaluation Unit

**تمویلونکي:**

UK Research and Innovation

GCRF